# مداري خاکي شاه او جمبوری

ث. اباسين

د هغو خلکو عمر چې د پنځوسو کلونو نه ډير دی او په کابل کې يې استوګنه کړي وي مداري خاکي شاه به يې ډير ښه په ياد وي چې کله به يې د زرنګار په پارک کې، کله به يې د قاري امان نوايي پلورنځي (فروشګاه) ترڅنګه او کله به يې هم په نورو ځايونو کې خپل د مداريتوب ميدان غوړولی وی، تماشې او نخرې به يې کولې او خلک به يې پر ځان راټول کړي وو. د پنځوسو کلونو نه مې ځکه پورته وويل چې زما عمر د پنځوسو نه ډير دی، کيدای شي د ځوانانو به هم په ياد وي.

مداري خاکي شاه به يو مار د ټوکرۍ نه راوويست، بيم به يې ورته غږاوه، او مار به نڅا کوله. بيا به يې مار په خلکو وګرځاوه، ځينو خلکو به پرې لاس هم تير کړ. مداري خاکي شاه به خلکو ته وښودله چې مار چيچل نه کوي او زهر هم نه لري. وروسته به يې کله د خولې نه تار راوويست، کله به يې د چا څټ او يا بل ځای نه هګۍ راوويستله او کله به يې نورې لوبې او نخرې کولې. جمبوري به په دې ټولو کارونو شاباسی وايه، د استاد ستاينه به يې کوله او د هغه د کمال او مداريتوب تصديق به يې کاوه. جمبوري به د مداري بابو شاه د لارښودنې پر اساس کله نا کله د خپل استاد مخالفت وکړ او د هغه خبرې به يې د پوښتنې لاندې راوستې. مګر کله به چې مداري خاکي شاه د جمبوري خبرې ځواب کړې او اعتراض به يې رد کړ، جمبوري به بيا څو چنده ټوپونه وهل او خوشحالي به يې کوله او د خپل استاد استادي به يې ستايله. جمبوری په دې پوهيده چې د ولاړو نندارچيانو د هغه انتقاد له ياد نه وتلی او اوس ټول د مداري خاکي شاه کمال ته متوجه دي. داراز به ميدان نور هم ګرم شو. د دې لوبو او نخرو په مينځ او يا پای کې به مداري خاکي شاه بيلابيل شيان هم خرڅول چې د هغه په قول سره د بيلابيلو ناروغيو او تکليفونو درمل وو. دا د خرڅلاو پروسه به مداري خاکي شاه دومره په مهارت سره پرمخ بوتلله چې خلک به دې ته چمتو شول چې له ده نه هغه سامان واخلي چې ده په خپل بازار کې غوړولی و. د دې لپاره چې د ده سودا ښه اخستونکي ولري يو، دوه يا څو تنه به يې د يو څو پيسو په مقابل کې پيدا کړی وو چې ده به پرې خپل درمل آزمويل او هغو کسانو به دستي تصديق کاوه چې درملو ښه کار وکړ او موثر وو.

يوه ورځ مې ښه په ياد دي. زه ښار ته تللی وم او مداري خاکي شاه خپل ميدان غوړولی و. زه هم د ننداري لپاره ورغلم او د خلکو په مينځ کې ننداري ته ودريدم. مداري خاکي شاه په کوچنيو ښيښيي بوتلونو کې يو څه اچولي وو او د لوبو او نخرو په مينځ کې وويل چې دا د مار د غوړو نه جوړشوي درمل دي چې د ډيرو دردونو درمان دی او خاصتاً د قولنجو لپاره ډيره ښه ګټه لري. بيا يې آواز وکړ چې په ولاړو ننداراچيانو کې څوک د بادو او قولنجو تکليف لري او يا د ملا د درد نه په عذاب دي. ډيرو کسانو ځواب ورکړ چې موږ دا تکليف لرو. د دې ټولو ننداراچيانو له مينځ څخه يې پر يو کس باندې غږ وکړ او هغه کس ميدان ته ورغی. دا چې دا يې خپل کس وو او که په رښتيا سره ننداراچي وو، خدای (ج) ته به معلومات وي او مداري خاکي شاه به پوهيده چې هغه څوک و. په سرې يې کميس وويست او د ښيښيي د بوتل په موادو يې ښه غوړ او چاپي کړ. کله چې دا پروسه خلاصه شوه نو مداري خاکي شاه د

نوموړي سرې نه پوښتنه وکړه چې درد دې څنګه دی. هغه ورته په ځواب کې وويل چې درد بالکل ورک شو او دی اوس روغ دی. دا ډرامه د دوو حالاتو نه خالي نه وه. لومړی: ښايي نومړی سړی د مداري خاکي شاه لخوا ګمارل شوی کس و چې بايد هغه څه يې ويلای وای چې مداري خاکي شاه ورته ويلي وو، او هغه د دوا مؤثريت وو. دوهم: تاسي په دې ډير ښه پوهيږئ چې مساج او چاپي (که په نوې ژبه کې ورته فيزيکل تيراپي ووايو، ډيره ناسمه به نه وي، اګر که ځيني خاص توپيرونه پکي شته) د داراز دردونو د موقتي آرامتيا لپاره ډيره ښه دوا ده او نتيجه يې هم د موقت لپاره ډيره ښه وي. البته فيزيکل تيراپي د ځينو نورو دردونو د اوږدې مودې علاج هم کوي، چې طبي ډاکټران او د فيزيکل تيراپي متخصصين په دې هکله غوره نظر ورکولای شي، زه پکې نور څه نه وايم. زما هدف ترې دلته يواځې موقتي تاثيرات دي.

کله چې د مداري خاکي شاه د خبرو او درملو د تاثير تصديق وشو، جمبوري شور او ځوګ راواخست، په ټوپونو او ګډا يې شروع وکړه او د استاد په حکمت، هوښيارتيا او بريالیتوب يې افرين ووايه. لنډه دا چې خلک د مداري خاکي شاه په خبرو وغوليدل او د مداري خاکي شاه نه ډيرو خلکو ښيښيي بوتلونه واخستل. د دې ټولو اخستونکو او ولاړو ننداریچيانو څخه يوه هم د مداري خاکي شاه نه دا پوښتنه ونکړه چې دا دومره ماران له کومه شو چې د هغې نه مداري خاکي شاه غوړ ويستلي وي او بيا يې ترې دا درمل جوړ کړي وي. البته په دې کسانو کې زه هم وم چې دا پوښتنه مې بايد کړې وی. مګر زه ځانته يو عذر لرم. زه هغه وخت ينځلس او يا شپاړس کلن وم، فکر مې لا وده نه وه کړې. دا چې کم عمر او د فکر لږه وده عذر ګڼل کيدای شي او که نه، دا يو جلا بحث دی.

مداري خاکي شاه په دې پوهيده چې د ننداري پر ميدان راټول شوي خلک د منطق او ژور فکر پر اساس استدلال نه کوي، ځکه استدلال او ژور فکر، وخت او نورو معلوماتو ته اړتيا لري. په هغې ځای کې خبره د احساساتو، حالاتو او لنډ فکر وه او مداري خاکي شاه په دې پوهيده چې د خلکو احساسات، حالات او لنډ فکر څنګه تر تاثير لاندې راولي او د هغو نه څنګه استفاده وکړي. هغه په دې کار کې ما ته ډير ماهر ښکاره کيده. اوس به راشو دې ته چې اوسنی لوی مداري حامدکرزی چې د مداري خاکي شاه په چالاکۍ او غولولو يې څو ځلې پينه اړولي ده، کومي لوبې کوي.

د افغانستان لوی مداري په خپل ولس باندې د مارانو غوړي د درملو په نوم خرڅوي او په دې ښه پوهيږي چې دا درمل نه، بلکې د پيسو او وخت ضايع ده. نه يواځې دا چې وجود ته کومه ګټه نه لري بلکې نور تاوان هم رسوي. مداري خاکي شاه يو جمبوری درلود مګر لوی مداري، دوه واړه مداريان يعني د هغه مرستيالان او د وزيرانو، مشاورينو، وکيلانو، سناتورانو او ځينو نورو په نومونو ډلې ډلې جمبوريان لري چې د ده کار تصديق کوي او ټوپونه ورته وهي او کله ناکله ورسره فرمايشي مخالفتونه هم کوي. لوی مداري دومره ماهر دی چې هغه جمبوريان چې د ده سره يې د لنډې مودې لپاره مخالفت کړی و، په مقابل کې يې دريدلي وو او ده ته يې بې کفايته هم ويلی و، بيرته د پيسو او مقام په زور راجلب کړي او د خپلو جمبوريانو په ډله کې يې کښينولي دي.

د افغان ولس د مداري خاکي شاه د ننداره‌چیانو په څېر د لوی مداري په خبرو غولیږي، احساست یې استعمالیږي او د دوا او درملو پر نوم پرې زهر خرڅیږي. ولس دې ته متوجه نه دی چې دا په ښیښنو کې بند درمل چې دوی ترې نن د اعلاج په نوم استفاده کوي د دوی د رنځ او مرګ سبب ګرځي. په داسې رنځ به یې اخته کړي چې بیا به د مرګ سوال کوي، مګر د رنځ نه به نه خلاصیږي.

که ولس د لوی مداري او جمبوریانو دې خطرناکې او د زهرو ډکې لوبې ته ځیر نه شي، د خبرو او حالاتو په شاه وخوا غور ونه کړي، نو په پټو سترګو به دا د ښیښې بوتلونه اخلي چې په ظاهره ډیر ښه ښکاره کیږي مګر په اصل کې د دوی د دردر لپاره هیڅ اثر او ارزښت نه لري. د مداري خاکي شاه د سوداګرۍ او لوی مداري حامد کرزي د سوداګرۍ ترمینځ یو ستر توپیرشته. چا به چې د مداري خاکي شاه جوړه شوې نسخه واخسته په ځان به یې عملي کړه، که تاثیر یې نه درلود، نو انسان به یې نه روږدی کاوه. اخستونکی به د مداري خاکي شاه په چل پوه شوه. که بیا به ننداري ته هم ورغی نو سودا یې ترې نه اخسته. د لوی مداري حامدکرزي سودا، اخستونکی روږدی کوي. اخستونکی مجبوروي چې بیرته لوی مداري ته ولاړ شي او د هغه نه یا د هماغې نسخې او یا بلې نوې نسخې غوښتنه وکړي. انسان دومره روږدی شي چې مداري پرې هرڅه کوي او هر راز شرایط پرې ږدي، اخستونکی هغه قبلوي او داراز خپل فکر، استقامت، متانت، حیثیت، غیرت، افتخار، آزادي او خپلواکي له لاسه ورکوي.

د ولس له مجبورۍ او بې غورۍ، سوی ځیګر یم حالت ته مې چې ګورم، ورځ له بلې نه بدتر یم

پاک څښتنه د خلاصون لاره زه ستا له دره غواړم سخت راګیر د مداري او جمبوریانو په جنتر یم